Public Disclosure Authorized

Public Disclosure Authorized

د معیشت لپاره د نقشې ترســـــــیم - د مســـــــو د جنوب ختیځ قطعې ځیرنیزه مطالعه

اجرایوي لنـــــــــــــډیز

پدې تحلیل کې د مسو د دهلیز په جنوب ختیځه برخه کې د نرمو پروژو لپاره بالقوه موقعیتونه په ګوته شوی دي. د یادې برخې په هر ۲۵۰ کیلو متر مربع مساحت کې پراختیایي وړتیا او ظرفیتونه د (i) سړکونو، (ii) مارکټـــــــونو، (iii) برېښـــــــنا، (iv) کرهـــــنې، (iv) د ولسوالیو د زیربنا، د پراختیایي پروژې تسلیمی او حکومتداری د وړتیا او ظرفیت، (v) د ملي پیوستـــــون د پراګرامونو د نوعیت او اندازې، (vi) او د ولسوالیو او ولایتونو ځخه د واټن او اندازې پر اساس سنجش شوی دی.

د ۵ کیلومتر مربع په اندازه ۶ سیمې چه هره یوه په خپل وار سره د منځنی شمیرې (mean scores) او همدا رنګه اضافي ځیرنو او د ځایي معلوماتو په اساس پیرندل شوی او په ګوته کړل شوی دي. د پروژې وړاندیزونه یواځې د فضایي معلوماتو، نقشه بندی او تصویري قراینو په اساس ترسره شوي دي، دا پداسې حال کې ده چه د ځایي سروې او د سیمې څه د نږدې لیدنې فرصت نه دی مساعد شوی. همدا ډول یاد وړاندیزونه باید په محلي کچه لا زیاد وسپړل شي.

1. <u>د خورا ستړی علاقې وړ سیمې</u>

۱,۱ سرخ رود

د ولایت مرکز ته د سړک د اسانتیا په ګډون د ډول ډول زرعي او غیرزرعي فعالیتونو نښـــــــــــې نښـــــــاني او فرصتونه د پام وړ دي.
وړاندیز شوي پروژې:

- سیمې ته د بریښنـــــــا د اسانتیا ښه کول
- د عمومی سړک سره د ټولنو، د خښـــــتو صنعت او کرهنې نښلونکي ځایي سړکونو ښه کول
- د بنډ او بنډ داری د رامنځ ته کولو سره مرسته او ملاتړ

۱,۲ سراچه او پټاو ټولنې

د ډول ډول کرهنیز او سړک ته د ځیرمه سوداګریز فعالیتونو شتون.

وړاندیز شوي پروژې:

- سیمې ته د بریښنـــــــا د اسانتیا ښه کول
- د عمومی سړک سره د ټولنو، د خښـــــتو صنعت او کرهنې نښلونکي ځایي سړکونو ښه کول
- د ۷مسیر په اوږدو کې سړک ته د ځیرمه سوداګریزو چارو ښه کول

۱,۳ شمالي شوبدیاني

د ډول ډول کرهنیز او سړک ته د ځیرمه سوداګریز فعالیتونو شتون.

وړاندیز شوي پروژې:

- ۷م مسیر ته نږدې د دغه سیمې په ختیځ کې د لا زیات سوداګرۍ د هڅونې په موخه د مارکیټ د زیربنا ښه کول
- سیمې ته د بریښنـــــــا د اسانتیا ښه کول
- د عمومی سړک سره د ټولنو، د خښـــــتو صنعت او کرهنې نښلونکي ځایي سړکونو ښه کول

<u>۲د لږي علاقي وړ سيمې</u>

۲,۱ غيزګی ميشت ځای

خورا حاصلخيزه او د کرهنې لپاره د ډول ډول فرصتونو سيمه، اما د کرهنيزو سيمو او کورونو ترمنځ خورا زيات تګ او راتګ او د ځايې مارکيټ نشتون د يادې سيمې د ننګونو څخه ګڼل کيږي.

لومړيتوب لرونکې پروژه:

- د عمومي سړک په اوږدو او يا هم جنوب لوري ته د کوچني مارکيټ د رامنځ ته کولو څخه ملاتړ، ترڅو د يادې سيمې او ان د لږي شمالي برخې لپاره سوداګري اسانه کړل شي.

نورې بالقوه پروژې:

- د برېښنا لېږد
- کوچني غير زرعي صنعتونه
- د کورني چرګانو فارمداري
- د کرهنزو سيمو ترمنځ ښه سړکونه

۲,۲ کوچين، انی خانخيل، چينې کالا او د اخندزادګانو ميشت ځای

خورا حاصلخيزه او د کرهنې لپاره د ډول ډول فرصتونو سيمه ده خو په سيند يې کوم پل شتون نلري.

لومړيتوب لرونکې پروژه:

- ۷ مسير ته د لاس رسی لپاره په ځايې سيند باندې د پل جوړول.

نورې بالقوه پروژې:

- د برېښنا لېږد
- د کورنۍ چرګانو فارمداري
- د کرهنزو سيمو ترمنځ ښه سړکونه

۲,۳ د بدخاک او د بدخاک د منځنۍ ښوونځي ميشت ځايونه

د کرهنې خورا محدود فرصتونه شتون لري، اما د کابل او جلال اباد ترمنځ د يو پلان شوي سړک ته خورا نږدې موقعيت لري او په ټوله ساحه کې ځای پر ځای د برېښنا پايې شتون لري.

لومړيتوب لرونکې پروژه:

- د واړه او کوچنيو صنعتونو سره د مرستې او ملاتړ په موخه د برېښـــــــنا انتقال

نورې بالقوه پروژې:

- عمومي سړک ته د لاس رسی لپاره د يو بل مسير جوړول
- په سيمه کي د ننه د دويمي درجي د سړکونه ښه کول

نقشه بايد ورکړل شي